مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ٢٠٢۶/٠١/١٣

# د هيواد ختيز ته لارې او موجود وضعيت

د اوسني ديورند کرښې په لارو تګ راتګ له ډېر پخوا و او وروسته تردې هم د تګ راتګ مخنيوی نشي کيدای. ځيني ځوانان دغو لارو ته يواځې د تجارتی لارو په توګه ګوري، خو مسئله تر دې هاخوا نور اړخونه هم لري. لومړی به د دغو لارو سوداګريز اړخ وګورو:

د پاکستان له جوړولو مخکې د دغه هېواد اوسنی سيمې له ډېر پخوا د ټولو افغانانو د ژوند ګډه سيمه او د راز راز اړيکو ( خپلوی، قومی، تجارتی، فرهنګی... روابطو ) لرونکې وې. کونړ، باجوړ، چترال او آن تر کشمير پورې ټول يو ولس و. د کشمير پښتنو دلته خپلوی ګانې لرلې. سوات ته تګ راتګ آن په يوه ورځ کې کيدای شو. اوس هم دلته افغانستان کې داسې کورنی شته چې نيکونو يې سوات کې جايدادونه لرل. زه د ننګرهار سرخرود کې داسې يوه درنه کورنی پېژنم چې سوات کې يې ترټولو د لوړ حاصل لرونکې زمکې وې. کندز کې يو ارباب صاحب دی چې سوات کې يې دنيکونو جايداد شته. دېخوا ته د مومندو، شينوارو، د ګوشتې او لعلپوري خلک چې ځومره پېښور او چارسدې ته تلل، راتلل، جلال اباد ته نه راتلل. وړاندې د وزيرستانونو خلک ټول يو پراخ ولس و. چمن اوبولدک تر کوټې او کلاسيف الله ټول يو کندهار و. انګريز سره د غزا د اتلانو او شهيدانو هديرې مو هلته دي، لکه غازی ايوبخان او نور. زموږ د پخوانيو عنعنوی سوداګرو (خصوصاً د دوستو خپلو کوچيانو تجارو) ټول تجارت له ملتان، بنارس، کراچې، کشمير او بيا واګې پورې و. سره له دې چې ١٩۴٧م. کې پاکستان جوړ شو، خو زموږ خلکو د پاکستان نوم نه پېژاند او نه يې خبرو اترو کې ياداو، لاهم هماغه ملتان، پېښور، وانه، کوهاټ، کلا سيف الله، لاهور، بنو... و. د کونړ او باجوړ، نواپاس، تورخم، ځځوبې، وچ خوړ، غلام خان.... چمن ... په دې ټولو لارو تګ راتګ بې ويزې او پاسپورټ و. له بده مرغه وروسته تر ١٣٧۵ او بيا خصوصاً وروسته تر ١٣٨١ل. ورو ورو د ويزې او پاسپورټ مسئله رامنځته او آن دا چې پاکستان د واګې لاره بنده وساتله او د ډيورند په کرښه يې د خلکو روابط او سوداګرې مطلقاً سياست سره وتړله.

له ١٣١٢ل. کلونو رادېخوا چې د نورو حکومتی تشکيلاتو سره يو ځای د تجارت وزارت هم جوړشو، ورو ورو دبهرنی سوداګری پاليسی جوړه شوه، هغه وخت د چارو د آسانی په خاطر دبهرني تجارت لپاره درې حوزې معرفي شوې:

دتجارت بارتر حوزه: چې عمدتاً چکسلواکيا، بلغاريا، شوروی اتحاد او نورو سوسياليستی هېوادو سره وه. دغه حوزه کې جنس د جنس مقابل کې تبادله کېد. وارداتي او صادراتی اقلام مومعلوم او تعريف شوي وو.

هندوستان سره د تجارت حوزه : په دې کې د همدې ډيورند له لارې سوداګري وه، چې زموږ صادرات عمدتاً وړی، کولمې، دخارويو پوټکې، بادام او يو څو نور اقلام وو، واردات مو مساله باب، شالونه، لاچې، ټوکر، چاې او نور وو. دا اقلام هرکال او هر موسم متغير وو.

دتجارت ازاده حوزه: دا له لندن، امريکا، جرمنی ... سره زموږد تجارت حوزه وه، چې زموږ عمده صادراتی اقلام قره قل، غالی، بادام، پومبه، پسته او نور وو، واردات مو عمدتاً عطر، برقی وسايل، ځينی ماشين آلات او طبی وسايل و، د دې شرح اوږده ده، موږ به هغه وخت تدريس کول. د دغې حوزې د تجارت د حجم په پرتله ارزش ډېر اوچت و، دا ځکه چې يوشمېر لکس او قيمتی وسايل پکې راتلل. د لومړي ځل لپاره د بهرني تجارت ارقام او شاخصونه موږ د ١٣۵۵ل. کال احصائيوی کلنی کې رسماً نشر کړل. حال دا چې پخوا به د تجارت وزارت د بهرنی سوداګری رياست ارقام صرف د راپورونو په شکل ثبتول او د ضرورت پر مهال به يې مراجعه ته استول.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وروسته تر ۱۹۷۸م. په تېره پاکستان سره په ډراماتيک ډول تجارتی مناسباتو کې بدلون راغی. دا وخت زمو داخلي محصولاتو( پلاستيکی لوښوجوړولو، اسب نشان جرابو، صابون، عقاب بوټ، زمردنشان جاکټ، د کندهار او کابل د پلچرخي پشمينه بافی، روکی شات، د جيلی انار پروسس، د شکري تولید، سپين زر غوړيو، نساجی ګانو...) ته پام واوښت او ورو ورو مو نوپای( لومړني/ماشوم) صنعت( infant industries) د ودې مسیر وموند. د پاکستان په نوم هيواد دخلکو په ژبه مشهور شو، د سياسی خړپړتيا ترڅنګ تجارت کې يو څه اصطکاک وليدل شو. البته دا د دوه اړخيز تجارت برخه کې ، نه د ترانزيت برخه کې. زموږ هېوادوالو هغه وخت د دغه هېواد محصولات (ډی سی!) بلل، ډلډا غوړيو، ګل والا واسلين او نورو توليداتو باندې يې مسخرې کولی. د دې بالمقابل له دوو نورو حوزو مو ډېر باکيفيته محصولات او واردات لرل. مهم قلم درمل و، موږ دهوخست درمل جوړول پيل او نور درمل له فرانسي راتلل. آن دا چې د هوخست او د افغانستان د فارمسی محصولات پاکستان او ايران ته قاچاق کېدل، هلته يې نوم درلود.

نن ورځ چې نړۍ کې تجارت او اقتصادي اړيکې له سياست څخه جدا عمل کوي، موږ د سياسی کړکيچونو له امله تجارت کې هم ستونزو سره مخ شولو. ډېر داسې هيوادونه پېژنو چې د سياسی احتلافاتو سره سره تجارتی علايق پالي او آن وده ورکوي. له ترکيې نيولې دسيمې تر نورو اسلامی هېوادو له اسرائيلو سره سياسی شديد اختلاف لري، خو تجارت کې خنډ نه جوړوي. سوداګری د عامه ولسونو مسئله او اړتيا ده، اما پاکستان هغه يواځينی هيواد دی چې تجارت سياسی مسايلو سره تړي. په همدې خاطر افغانستان اړ شو چې خصوصاً ورسته تر ۱۳۸۴ل. په بديلو لارو فکر وکړي، سره له دې چې يو هيئت د محترم احدی په مشرۍ په ۲۰۱۴م. کې پاکستان ته ولاړ او د دوه اړخيز تجارت په اړه يې د (اپټا) په نوم يو قرارداد لاسليک کړ، خو دغه قرار داد تل د پاکستان له لوري نقض کېد. له دې پرته پاکستانی لوري هرکال زموږ د محصولاتو د توليد د موسمونو پرمهال لارې تړلې او آن دا چې يو بيخرته ډمپنګ يې جاري ساتلی و. يو شمېر د نباتي ناروغيو عاملين همداوخت د پاکستانی ميوو او هغو لرګيو سره راغلل چې راستنېدونکو هيوادوالو ځان سره راوړي وو. ځينې وخت به يې زموږ پرمحصولاتو ۳۰۰څخه تر ٪۴۰۰ تعرفه وضع کړه! هغه يو شمير مواد چې زموږ د ناچيزه صنايعو( لکه د صابون او شامپو توليد) لپاره نيم کاره مواد بلل کېدل، د پاکستان له خوا يې د صادرولو بنديز ولګول شو، د دې برخلاف زموږ غالی، د ځنګلونو اعای درجه لرګي، آسونه او نور کمياب آثار يې په خپل مارک صادرول. د آپتا هوکړې خلاف هند سره مو د واګی له لارې سوداګري بنده شوه، د افغانستان د وسايطو مستقيمه بارګيرۍ منع، خو د دوی روانه وه. اضافه بار يې منع نه کړ، له کراچۍ او پورت قاسم زموږ د تجارو د مال ترخيص کې ډېر بی مورده خنډونه جوړ او په بېلابيلو بهانوبه مو تجارتی کانتينرونه په مياشتو منتظر و، تر څو به چې محمولې خپل کيفيت له لاسه ورکړ.

له ۱۳۸۲ تر ۱۴۰۰ل. پورې د افغانستان اقتصاد، خصوصاً ښارونو کې ډېر ښه شو، دخلکو عوايد اوچت او سوداګري ته مو خلکو(ډالری سوداګري او ډالرو پورې تړلی اقتصاد) نوم ورکړ! له دې سره يو ځای کورنيو مارکيټونو کې تقاضا ښه اوچته شوه، له دې تقاضا سره بهرنی تجارت او په دې کې پاکستان سره سوداګری وده وموندە. دغو کلونو کې زموږ د تجارت وزارت يو پاسيف حالت درلود حتا ګمرکونومجاز او غيرمجاز اقلام نشو تفکيک کولای، مسلکی وړ متخصص کار کوونکو د قرنطين او نورم و ستندرد دفترونه او کوم مجهز لابراتوار مو نه و. متاسفانه همدې کلونو کې زموږ د عامه روغتيا او روغتونو تېپونو ګزکی وکړ، له ۱۳۷۱ل. کال تر ۱۳۸۲ کال د پوهنتونو او طب پوهنځيو سقوط او د درسونو توقف او د ورزيده طبيبانو د مهاجرت ډب مو دغه وخت کې وليد، چې پاکستان ته زموږ د ناروغانو رش دومره زيات شو چې د ډيورند پر کرښه به يې وار نه و. دا وخت زموږ ميليونونه دالر پاکستان کې په درملنه لګېدل.

دا وخت که له پاکستان سره دخپل منځي سوداګری ارقامو ته دبيلګې په توګه وګورو زموږ د سوداګری دوران دوی سره تر يوولس نيم ميلياردو الرو لوړ شوی و. متاسفانه موږ دغه تجارت کې بيلانس څه چې بيخی کسر سره مخ وو. زموږ واردات دغه هېواد څخه نهه نيم ميليارد ډالره، خو صادرات مو صرف د دوه ميليارد دالرو يا لږ زيات شاوخوا و. د اقتصاد له نظره دا کسر او په تجارت کې زيان دی. د ارقامو له مخې موږ د ۶۴۰ميليون دالرو شاوخوا کسر درلود(!) . (دې رقم او عدد ته توجه په کار ده). له ۱۴۰۰ل. کال وروسته چې جمهوريت سقوط شو يو ناڅاپه د معدني توکو، د ډبرو دسکرو او دقيمتی احجارو اود ځنګلونو د لرګيو غير مجاز ليږدول زيات شول.

په وروستيو کې له پاکستان څخه د بی کيفيته اجناسو(خصوصاً درملو)شکايتونه اورېدل کېدل. کله چې وروسته تر ۱۴۰۲ل. کال د ديورند د کرښې د لازيات رسمی کولواو له طالبانو سره د پاکستانی ځانګړو (نظامی- استخباراتی) ادارو د روابطو د شک راوستو په موخه د کرښې په غاړه د (جنګونو) لوبه پيل شوه، پاکستانی نظامی ځواک ته بهانه او فرصت برابر شو، قبايلی سيموباندې يې واک زيات او ټينګ کړ. د پاکستانی طالبانو خبره يې توده کړه او د دې(جنګونو؟!) په ترڅ کې به يې پر افغانی تجارو لاره بنده کړه. البته موږ د بديلو لارو له برکته زيات متضرر



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نشولو، د زیات شمیر بی کیفیته اجناسو راتګ هم ودرول شو، زموږ داخلی محصول ښه بازار وموند، یو شو نورې ګټې مو وکړې. دغه وخت کې پاکستان ته د افغانستان صادارتو کې ۴۰٪ او د پاکستان له خوا ورداتو کې ۵۵٪-۵۰ کمښت راغی. که د ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ د وروستیو میاشتو د تجارت حجم وګورو، له ۲.۴۶۱میلیارد دالرو څخه ۱.۷۶۶ میلیارد ډالرو ته راټیټ شو(خدای وکړی ارقام د لیږلو پرمهال ګډوډ نشی) زموږ صادرات صرف ۸۱۷ میلون ډالره و. د ۲۰۲۵ م. کال وروستیو دریو میاشتو لارې تقریباً وتړل شوې، خو د لاری بندول باید موږ ته معقول ښکاره نشي، دا ځکه، دلته درې کیسې روانې دي:

۱.ختیز کې موږ جغرافیایی جبر یوې داسي خاورې سره ګاونډ کړي یاستو چې د کراچی او پورت قاسم او واګې له لارې مو ترانزیت ساتلی دی،

۲.د دواړو هېوادو ترمنځ دوجانبه یا خپل منځی عنعنوی سوداګری شته،

۳.د دواړو خواوو د ولسونو ترمنځ د ورونو خلکو اړیکې.

په دې توګه که مجموعی روابط ۱۰۰٪ وبولو، پرته له یو فیصد غیرقانونی برخې، دا درې نورې هره یوه مساوی، یعنی ۳۳٪+۳۳٪+۳۳٪ ارزښت لري. دې دری برخو کې به موقت قطع وې، خو دایمی قطع روابط امکان نه لري، او ورسره به موږ یوه فعاله او معقوله ګمرکی پالیسی باید ولرو. دا مصنوعی جنګونه چې د کربښې دوو غاړو ته کیږي، دا خوا یو څو هلمندي، وردګی یا پکتیاوال او ننګرهاری ځوانان او هاخوا یو څو د قبایلو خلک وژل کیږي، دوی د کثیف سیاست او د خلکو د دوکې لپاره قرباني کیږي، د سیاستوالو لپاره مهم ندي. په دې توګه د پنجاب پوځ او استخباراتو وار په وار خپل اغېز په سیمه زیات کړ. له دې وضعیت څخه د دوی موخه دا هم ده چې د ورونوولسونو تر منځ نوره هم فاصله ایجاد، پوله اوچته او کرکه رامنځته کړي.

افغانستان وچې پورې د یو ایسار هېواد په توګه د( Land locked) هېوادو د میثاقونو سره سم د نړیوالو حقونو او نړیوال تجارت له مخې کاملاً حق لري د کراچی او نورو بندرونو څخه خپل تجارتی مالونه وارد او بالمقابل صادر کړي، دې برخه کې د UNCTAD, WTO,TIR,LLDC,APTTA میثاقونه زموږ د تجارو حقوق تضمینوي، له دې پرته افغانستان له پاکستان سره دسارک او ایکو سازمان کې غړی او هلته ګډ تعهدات شته.

دوهمه برخه کې هم د دواړو هېوادو تجار یو بل سره ښه همکار دي، آن ګډه پانګه لري اویوشمیر خصوصی شرکتونه او انفرادی اشخاص دوه اړخیز مراودات لری، زموږ طبی لابراتوارونه، یوشمیر تخنیکی ورکشاپونه، کسبه کار... د پاکستان موادو او کمکی ابزارو اوسایلو ته اړ دي.

دریمه برخه هم په مساوې اندازه د پام وړ ده. د دیورند تحمیلي کربښې ولسونه دوو غاړو ته ورونه ولسونه نشی جلا کولای او د دوی مړی-ژوندی او روابط به تل وي او نور به هم کلکیږي.

مهمه دا ده چې څه مو زده کړل:

لومړی) باید د نجونو پرمخ د تحصیلاتو دروازې پرانیزو، ځکه لس کاله وروسته یې د ډب او ګزکي جبران نشو کولای،

دویم) د خپلو کرنیزو محصولاتو پروسس او د مارکیټنګ پراخیتا ته پاملرنه، د سرد خانو په جوړولو بیړه،

دریم) د افغان ترانس پروژې او د وسپنې د پټلی کارته دوام ورکول او پایلې ته یې رسېدل،

څلورم) د تجارت برخه کې د ترانزیت حق ساتل او پاکستان سره د نړیوالو میثاقونو او کنونسیونونو په رڼا کې رنه او منطقی قوی لابی،

پینځم) د هېواد دننه د کرنیزو محصولاتو او صنعتی تولیداتو د ګټورتوب په خاطر د صنعتي پارکونو ملاتړ،

شپږم ) ګمرکونو کې د قرنتین، د نورم او ستندرد دفتر او د کیمیاوی مودو او درملو د لابراتورونو لرل، چې چارې فني او مسلکي متخصص مدیرت کړي،

اووم ) د پښتنیخا او بلوچستان ستونزې، خوشحالی، ملي نمانځنې، آزدی بخښونکی او د عدالت غوښتنې مبارزه، د دوی کلتور، لاسته راوړنې، عقیده او تاریخ خپل ګڼل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ